
هفته‌نامه **معارف** اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تأسیس: ۱۴۲۳ هـ ق. مطابق ۱۳۸۱ هـ ش. شماره مسلسل (۳۰۴) ماه محرم‌الحرام ۱۴۴٦ هـ ق. مطابق ماه سرطان ۱۴۰۴ هـ ش.


**بهترین تفریح مطالعه کتاب است**

# د پوهنې وزارت سرپرست د ولایتونو له پوهنې رئیسانو سره د "برېد" سیستم د ګټو په اړه آنلاین کنفرانس دایر کړ



د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا، په داسې حال کې چې د یاد وزارت یو شمېر مرکزي رئیسان هم حاضر وو، د "برېد" سیستم په اړه د ولایتونو د رئیسانو سره د ویډیو کنفرانس له لارې خبرې وکړې او ددې سیستم له جوړېدو یې ستاینه وکړه.

نوموړي، یاد سیستم د مراجعینو او پوهنې مسئولینو لپاره د آسانتیاوو برابرولو په برخه کې اغېزناک او مهم وباله.

د پوهنې وزارت محترم سرپرست وویل: موږ او تاسو یو لوی مسئولیت په غاړه اخیستی تر څو د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه عالي مقام د اوامرو او فرمانونو له مخې، خپلې دندې ترسره او د هېواد بچیانو ته د ټولو امکاناتو په کارولو سره اړین او معیاري ښوونیز او روزنیز خدمتونه وړاندې کړو.

د پوهنې وزارت مسئولین وایي د برېد سیستم له جوړولو څخه اساسي موخه، مراجعینو ته د آسانتیاوو برابرول او د هغوی له سرګردانیو څخه مخنیوی دی ....

۲مخ

## دیدار شماری از روئسای معارف ولایات با سرپرست وزارت معارف



رئیسان معارف ولایت های کابل، میدان وردگ، بامیان، کاپیسا، غزنی و لوگر با محترم الحاج مولوی حبیب الله آغا سرپرست وزارت معارف دیدار و در محوریت وضعیت روند تعلیم و تربیه در ولایات یاد شده با هم بحث های مفصل و تبادل نظر نمودند.

روئسای معارف ولایت های یاد شده هر یک بالنوبه به صورت کل پیرامون وضعیت تعلیمی، اداری و سایر موضوعات مرتبط به معارف ولایات صحبت نموده، مشکلات و چالش های فرا راه فعالیت های مدارس و مکاتب و نحوه تعامل با نهاد های همکار با معارف در ولایات و یک سلسله پیشنهادات و نظریات شان را با ...

ص۲

## برگزاری سیمینار از سوی ریاست عمومی دعوت و ارشاد برای کارمندان وزارت معارف

ریاست دعوت و ارشاد وزارت معارف برای کارمندان و منسوبان هسته مرکزی این وزارت سیمینار رهنمودی و آموزشی دایر نمود.

در این مراسم، برعلاوه از معینان محترم منابع و اداره و تضمین کیفیت، مسئولان و کارمندان وزارت معارف، محترم شیخ نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان، محترم قاری شریف الله حقانی رئیس عمومی دعوت و ارشاد وزارت امر بالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات و محترم شیخ خلیفه محب الله معاون شورای علمای ولایت کابل نیز حضور د اشتند.

در نخست محترم معین تضمین کیفیت وزارت معارف ضمن خوش آمدید مهمانان و حاضرین پیرامون موضوعات و محتوای سیمینار معلومات ارائه داشته از کارمندان خواست تا با مراجعین رفتار نیک داشته و به مشکلات شان در اسرع وقت رسیدگی صورت گیرد.

محترم رئیس عمومی اداره امور امارت اسلامی افغانستان هم بالنوبه، طی سخنان شان در رابطه به تأثیرات سوء تعصبات در جامعه صحبت های مفصل نموده، تصریح کرد: جلوگیری و رهایی از تعصبات زبانی، سمتی، قومی و غیره یگانه راه شامل شدن به دایره اسلام است و در این زمینه کارمندان را به رفتار متعادل و صمیمانه با تمام افراد و اقشار جامعه توصیه نمود.

سایر صحبت کنندگان ...

ص۲

## د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین د یو شمېر مرکزي ریاستونو څخه لیدنه وکړه



د پوهنې وزارت د کیفیت تضمین معین محترم الحاج مولوي عبدالخالق صادق د پوهنې وزارت له یو شمېر مرکزي ریاستونو څخه په جلا-جلا توګه لیدنه وکړه.

د یادو لیدنو په بهیر کې، چې د معیاري آزموینو، څارنې او ارزونې، نتایجو او شهادتنامو او پلان ریاستونه پکې شامل وو، د دوی د ورځنیو چارو او فعالیتونو ارزونې تر څنګ د دوی ستونزې واورېدل شوې او د حل لپاره یې اړینې لارښوونې وشوې.

د کیفیت تضمین محترم معین دیادو څانګو د کارکوونکو له فعالیتونو ستاینه وکړه، دوی یې وهڅول ترڅو خپلې دندې په پوره اخلاص سرته ورسوي او د لا همغږۍ، مسلکي چارو پرمختګ او په ورځنیو چارو کې د روڼتیا پیاوړتیا لپاره اړینې مشورې ورکړل شوې.

## غزني ولایت کې د ۱۰ بابه ښوونځیو نوې ودانۍ پرانیستل شوې

د غزني ولایت په آب‌بند، ګیلان او اجرستان ولسوالیو کې د ۱۰ بابه ښوونځیو نوې ودانۍ، چې د ۱۱۰ مېلیونه افغانیو په لګښت جوړې شوې دي، د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې پکې د پوهنې وزارت د مقام د دفتر لوی رئیس محترم الحاج مولوي شهاب الدین ثاقب، د غزني ولایت د پوهنې رئیس محترم الحاج مولوي میر نصیر احمد حسیني او یو شمېر مسئولینو ګډون درلود، افتتاح او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوې

یاد ښوونځي چې د یوې همکارې ادارې په مالي ملاتړ جوړ شوي، هر یو یې ۶ درسي ټولګي، یوه اداري خونه، د څښاک پاکو اوبو منظم سیستم، لمریزه برېښنا، احاطوي دېوال او نور اړین ملحقات لري.

د یادو ښوونځیو د پرانیستې په مراسمو کې؛ د غزني ولایت پوهنې محترم رئیس د علم او پوهې پر ارزښت خبرې وکړې هغه د خپلو خبرو په ترڅ کې وویل: "زموږ د هېواد پرمختګ د مدارسو او ښوونځیو په جوړولو کې دی او که موږ د هغوی کیفیت ته پام وکړو، زموږ اوسنی نسل به روښانه او باثباته راتلونکې ولري."

همدارنګه، د پوهنې وزارت د مقام د دفتر محترم لوی رئیس هم د خپلو خبرو په ترڅ کې ډاډ ورکړ چې د پوهنې وزارت ژمن دی چې هېوادوالو ته د پوهنې په برخه کې غوره خدمتونه وړاندې کړي.

د غزني ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د یادو ښوونځیو په جوړېدو سره د یادو سیمو په زرګونو تنه زده کوونکو ته د زده کړې مناسب او خوندي چاپېریال را منځ ته شوی.

د یادو سیمو اوسېدونکو هم په خپلو سیمو کې د ښوونځیو له جوړېدو خوښي څرګنده کړه او د علم او پوهې د پراختیا په برخه کې یې د پوهنې وزارت هڅې وستایلې.

## در این شماره


کتاب، قلم او ښوونځی زموږ امانت دی — صفحه ۲

د شیخ عبدالقادر جیلاني رحمه الله ویناوې — ۳مخ

نیروی خاموش به نام عزم! — صفحه ۳

سرمقاله

# کتاب، قلم او ښوونځی زموږ امانت دی

بسم الله الرحمن الرحیم

اَلحَمدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلامُ عَلٰی سَیِّدِالمُرسَلِینَ وَعَلٰی آلِهِ وَأَصحَابِهِ أَجْمَعِیْنَ

ښوونه او روزنه د هر ملت د پرمختګ بنسټ دی، او زده کوونکي د دې بهیر اصلي محور ګڼل کېږي. مدرسې او ښوونځي د زده کړې او شخصیت جوړونې هغه مرکزونه دي چې د هر ماشوم، تنکي ځوان او ځوان د روڼ سبا هیله پکې نغښتې ده. خو دا موخه هغه وخت ترلاسه کېدای شي چې طالب العلمان او زده کوونکي نه یوازې زده کړې ته جدي پاملرنه وکړي، بلکې له خپلو درسي توکو، مدرسې او ښوونځي هم ښه ساتنه وکړي.

درسي توکي، لکه کتابونه، کتابچې، قلمونه، بیکونه او نور، د زده کړې وسایل دي، که طالب العلمان او زده کوونکي له دغو توکو سره بې پروایي وکړي، نو نه یوازې اقتصادي تاوان به وکړي، بلکې د زده کړې پر کیفیت هم ناوړه اغېز پرېږدي. هغه زده کوونکي چې کتابونه ښه نه ساتي او پاڼې یې خیرې کوي پر دې سربېره چې زده کوونکي بې‌نظمه ښکاري، خپله تعلیمي بهیر هم اغېزمن کوي په دې مانا چې زده کوونکي نشي کولای د خیرې شوو کتابونو څخه په هغه اندازه زده کړه او اخذ وکړي لکه له نویو کتابونو یې چې کوي، همدارنګه که په کتاب کې د یوه مطلب یوه برخه خیرې شوې وي نو هغه به مطلب نیمګړی وي او زده کوونکي به پرې نه پوهېږي چې په دې سره د زده کړې بهیر ټکنی او د زده کړې بهیر به له ستونزو سره مخ کېږي.

له بل پلوه، مدرسې او ښوونځي د ټولو زده کوونکو ګډ کور دی، او هر طالب العلم او زده کوونکی ته لازمه ده چې د دې کور پاکوالي، نظم، ساتنې او ارزښت ته درناوی او په بشپړه توګه پاملرنه وکړي. د مدرسې او ښوونځي په دېوالونو بې ځایه لیکل، د چوکۍ او میزونو ماتول، یا د مدرسو او ښوونځیو چاپېریال ته نه پاملرنه او هلته د کثافاتو غورځول نه یواځې د طالب العلمانو او زده کوونکو مناسب عمل نه ګڼل کېږي، بلکې د خپلو ښوونیزو مرکزونو په وړاندې ددوی د بې‌مسؤلیته چلند ښکاره کوي. دا ډول کړنې د ښوونځي چاپېریال ته زیان رسوي، نو لازمه ده چې ګران طالب العلمان او زده کوونکي زده کړه یواځې په کتاب لوستلو پورې محدود نه کړي، بلکې د مدرسې او ښوونځي د ودانۍ، چاپېریال او وسایلو ساتنه هم خپل تعلیمي مسئولیت وګڼي.

ښوونکي، مشران او د کورنۍ غړي باید زده کوونکو ته تل توصیه او سپارښتنه وکړي چې درسي توکي، مدرسې او ښوونځي د دوی د راتلونکې لپاره ارزښتناکې زیرمې دي، او باید په پوره مینه، مسؤلیت او زړه سوي ورسره چلند وکړي او د قدر په سترګه ورته وګوري.

په پای کې ویلی شو چې طالب العلمان او زده کوونکي باید پوه شي چې د دوی هر ښه عمل، منظم او مسؤلانه چلند نه یوازې د دوی د تعلیمي بریا لامل کېږي.

نو ګرانو طالب العلمانو او زده کوونکو راځئ چې د مدرسې او ښوونځي وسایل او درسي توکي د خپلې پوهې او راتلونکې سرمایه وبولو او په ساتنه کې یې پوره هڅه او پاملرنه وکړو.

## ساخت یک باب مکتب به هزینه بیش از ۲۱ میلیون افغانی در فاریاب

ساختمان جدید ابتدائیه المار در ولسوالی خواجه موسی ولایت فاریاب با حمایت مالی یکی از نهادهای همکار در بخش معارف به هزینه ۲۱.۳۴ میلیون افغانی ساخته شده و طی مراسمی افتتاح و به بهره‌برداری سپرده شد.



رئیس معارف ولایت فاریاب اعمار این ساختمان را گامی مهم در راستای ارتقای کیفیت آموزش و ایجاد محیط آموزشی امن و سالم در آن محل دانست.

این ساختمان که به‌گونه اساسی در دو طبقه ساخته شده است، دارای ۱۳ صنف درسی، یک اتاق اداری، لابراتوار، سیستم برق آفتابی، دیوار احاطوی، یک حلقه چاه آب، میدان ورزشی و دیگر ملحقات ضروری آن می‌باشد.

قابل ذکر است که این ساختمان در زمینی به مساحت ۳۰۰۰ متر مربع اعمار شده که از سوی باشندگان آن ولسوالی وقف معارف گردیده بود و ۴۶۸ تن شاگرد به‌گونه هم‌زمان در آن آموزش خواهند دید.

## د دایکنډي ولایت یو شمېر ښوونځیو ته د کتابونو او درسي موادو د وېش لړۍ پیل شوه

د دایکنډي ولایت د ښوونکو او زده‌کوونکو لپاره د خېمو، کتابونو او درسي موادو د وېش لړۍ، د یاد ولایت پوهنې مسئولینو په حضور کې پیل شوه.

په دغو توکو کې د لومړنیو ښوونځیو زده‌کوونکو لپاره ۱۹۶۱ کڅوړې، د ښوونکو لپاره ۹۸۳ ځانګړې بستې، د ښوونځیو لپاره ۴۳۱ اداري کڅوړې، د ځوانانو لپاره د تعلیمي موادو ۲۶ کڅوړې، د لومړنیو ښوونځیو زده‌کوونکو لپاره ۱۸ جعبې درسي توکي، ۳۱ پایې خېمې او د صنفي اصولو زده‌کوونکو لپاره ۱۱۸۴۳ ټوکه درسي کتابونه، چې د یوې همکارې اداري لخوا چمتو شوي وو په یاد ولایت کې به ۳۹ زره ۲۲۰ تنو زده‌کوونکو ته ووېشل شي.

د دایکنډي ولایت پوهنې ریاست مسئولینو په وینا د یادو ښوونیزوکڅوړو په وېشلو سره به د لومړنیو ښوونځیو درسي موادو ته د لاسرسي ستونزې حل او په محرومو سیمو کې به د زده‌کړې دکیفیت لا ښه والي برخه کې مهم ګام پورته شي.



### د پوهنې وزارت سرپرست د...

مسئولین زیاتوي یاد سیستم د پوهنې د ټولو څانګو او ادارو سره دوامداره اړیکه لري، چې یاد سیستم به پخوا یواځې د کمپیوټر په حافظه کې اسناد تر درېیو کلونو پورې د ساتنې وړ وو خو اوس د "برېډ" سیستم په کارولو سره ټول اسناد تر شلو کلونو وروسته هم ساتل کېږي.

د یادونې وړ ده چې دغه سیستم، د منسوبینو او مراجعینو لپاره د دوی د اسنادو طی مراحل کولو سربېره د مراجعینو ستونزې په چټکۍ او پرته له وخت ضایع کېدلو حل کوي او د روڼتیا او د اسنادو محرمیت ساتلو کې هم مهم رول لري.

### برگزاری سیمینار آموزشی از سوی...

این نشست علمی نیز پیرامون مزایای امربالمعروف و نهی عن المنکر در اصلاح جامعه و پیشرفت کشور سخنان شان را ایراد نموده گفتند: امر به اجرای امور پسندیده و نهی از اعمال نا مناسب و نا مشروع نه تنها وظیفه حکومت ها می باشد، بلکه وظیفه و مسئولیت هر مسلمان در قبال جامعه و مردمش می باشد که باید شجاعانه در این راه پیش قدم شوند.

در فرجام این سخنرانی های رهنمودی و تربیتی، مجلس با دعائیه خیر و فلاح توسط محترم مولوی صاحب پاینده محمد تعلیم رئیس انسجام امور ولایتی وزارت معارف به پایان رسید.

### دیدار شماری از روئسای...

رهبری محترم وزارت در میان گذاشتند.

در مقابل، سرپرست محترم وزارت معارف از کارکرد های ریاست های معارف ولایات در امر تقویه کیفیت تعلیمی و توسعه نهاد های تعلیمی تحسین نموده، در رابطه به نظریات ارائه شده از سوی روئسای معارف ولایت های یاد شده هدایات لازمی و وعده همکاری سپرد.

### د پوهنې وزارت سرپرست ...

معین محترم الحاج مولوي سخاءالله سعید او د مرکزي هستې له څېنو رئیسانو سره هم په جلا جلا توګه وکتل او د یاد ولایت د تعلیمي، اداري او مالي وضعیت د لا ښه والي په اړه یې ورسره مفصلې خبرې وکړې چې د پوهنې وزارت د مشرتابه له لوري ورسره په یادو شوو برخو کې د پوره مرستې او همکارۍ ژمنه وشوه.

### سمنګان ولایت کې د یو شمېر...

روی دوآب ولسوالۍ کې د یو باب منځنۍ ښوونځي بیارغونه، په دره صوف پاین ولسوالۍ کې د بیانان شرق عالي لېسې لپاره د استنادي دېوال جوړول، د شیخه ښوونځي لپاره د احاطوي دېوال جوړول او د دره صوف بالا ولسوالۍ په خاکباد ښوونځي کې د پنځه درسي ټولګیو ودانۍ جوړول، د کته قشلاق لومړني ښوونځي لپاره احاطوي دېوال جوړول او د مرکز ایبک اړوند د حاجي امان الله قندهاري ښوونځي لپاره د څښاک پاکو اوبو شبکې فعالول شامل دي.

یادې پروژې د پوهنې په برخه کې د یوې اداري په مالي مرسته پلې کېږي، چې ټول لګښت یې ۲۱ مېلیونه ۴۱۹ زره ۵۵۸ افغانۍ اټکل شوی دی.

په یادو مراسمو کې، د سمنګان ولایت د پوهنې رئیس محترم مولوي محراب الدین اقبال، د پوهنې پر اهمیت او د ښوونیز کیفیت په لوړولو کې د تدریسي زیربناوو رول په اړه هراړخیزه وینا وکړه.

د پوهنې وزارت مشرتابه، په داسې حال کې چې د پوهنې سره د همکارو ادارو له ملاتړ ستاینه کوي، د هېواد د تعلیمي ادارو له زده‌کوونکو او چارواکو څخه غواړي چې د خپلو ښوونځیو تجهیزاتو او تاسیساتو ساتنې او ترمیم ته جدي پاملرنه وکړي.

### غزني کې د یو باب ښوونځي...

اړین محلقات به ولري، د ځایي اوسېدونکو په مالي مرسته د ۱۰ مېلیونه افغانیو په لګښت سره په دوو پوړونو کې جوړه شي.

د غزني ولایت د پوهنې ریاست د مسئولینو په وینا، د دې ودانۍ په جوړېدلو سره به د ۳۰۰ تنو زده‌کوونکو لپاره مناسب ښوونیز چاپېریال رامنځ ته شي.

د پوهنې وزارت مشرتابه د خلکو، په ځانګړې توګه د غزني ولایت علم پروره ولس له مادي او معنوي ملاتړ څخه مننه کوي.

# د شیـخ عبـدالقادر جیـلاني رحمـه الله ویـناوې

۱ـ ستاسـو لوی دښمن ستاسو بد ملګری دی.
۲ ـ ښـېګڼه هغـه ده چـې لـه خلکـو نـه یـې دسـتاینې هیلـه ونـه شـي.
۳ ـ دنیك کار پیـل ستاسـوکار دی اوپـای یـې الله پـاك تـه پرېـږدئ.
۴ ـ کـه دخـدای پـاك نـږدې والـی مـو خـوښ وي نوپرمخلـوق یـې لورینـه وکـړئ.
۵ ـ د نفس پـه نـاروا غوښـتنو سـر مـه ګـروئ کـه نـه لـه تباهـۍ اوهلاکـت سره بـه مـخ شـئ.
۶ ـ لـه ویجـاړو قبرونـو څخـه عبـرت واخلـئ، ځکـه چـې دډېرو ځوانانـو هډوکـي پکـې خـاورې شـوي دي.
۷ ـ دمـرګ یـادول دنفـس دټولـو رنځونـو ښـه درملنـه ده.
۸ ـ ښـه عمـل نـورو تـه ورکـړه ده، نـه، لـه نـورو نـه غوښـتنه .
۹ ـ مؤمـن خپلـه کورنـۍ اللـه جـل جلالـه تـه سـپاري او منافـق یـې جایـداد اوشـتمنۍ تـه.
۱۰ـ ستاسـوغیبت کونکـي پـه حقیقـت کـې تاسـوته ګټـه رسـونکي دي، ځکـه خپلـې ښـېګڼې ستاسـو دعمـل پـر پاڼـه لیکـي.
۱۱ ـ د رزق هغـه پراخوالـی چـې شـکر پـرې ونـه ایسـتل شـي اود ژونـد هغـه سـختي او سـتونزې چـې صبـر پـرې ونـه شـي دفتنـې اوفسـاد لامـل ګرځـي.
۱۲ ـ دنفـس دغوښـتنو پـه نیلـي مـه سپرېږئ ځکـه چـې دابـه مـو دهلاکـت کنـدې تـه وغورځـوي.
۱۳ ـ نیکـي داسـې دیـوه ده چـې د دوسـت او دښـمن دوارو ودانـي یـودول رڼـا کـولای شـي.
۱۴ ـ کینـه د ایمـان جـرړې باسـي اوانسـان دالله جـل جلالـه لـه رحمـت څخـه بـې برخـې کـوي.
۱۵ ـ هوښـیار لومـړی زړه پوښـتي اوبیـا پـه ژبـه خبـرې کـوي.
۱۶ ـ کلـه چـې یوڅـوك تاسـې تـه دڇـا خبـره راورسـوي نـو ویـې رټـئ او ورتـه ووایاسـت چـې تـه خـو ترهغـه ډېـر بـد یـې، ځکـه هغـه خـو خبـره پـه غیـاب کـې کـړې وه اوتـا نیـغ پـه نیغـه مـا تـه راورسـوله.
۱۷ ـ د اللـه جـل جلالـه عبـادت وکـړئ او د هغـه لـه ذات څخـه وویرېـږئ، لـه بـل چـا مـه وېرېـږئ .
۱۸ ـ خپلـې ټولـې هیلـې او اړتیـاوې د اللـه جـل جلالـه پـه وړانـدې کېـږدئ او هرڅـه لـه هغـه څخـه وغـواړئ، لـه هغـه پرتـه پربـل هیڅـا باوراوتکیـه مـه کـوئ.

## کتاب ولې او د څه لپاره لولو؟

ق فضل شینواری

د کتابونو لوستل دېرښکتې لرې چې د بېلګې په توګه یېځو کرښې په لاندېډول لیکو.

۱: ددې لپاره چې زمونږ د پوهې کچه لوړه شي .

۲: د ښه او بد تر منځ په توپیر باندې پوه شو.

۳: په نړی کې د نوو اختراعاتو او مالوماتو څخه خبر شو.

۴: د کتابونو په لوستلو سره مو فکر پراخه او ذهن موآرامه کېږي.

۵: ددې پرځای چې سفرونه وکړو نړی پیژنو.

۶: هیلې مو ورسره ژوندۍ کېږي او حوصله موزیاتېږي.

۷: هغه ستونزې چیپه ذهنې دول ورسره لاس او ګرېوانیو ورته دحل لار موندلی شو.

۸: د کتاب په لوستلو سره مو د پوهې کچه لوړېږي او ذهنې سکون تر لاسه کوو.

۹: نیمګړتیاوېمو راپه ګوته کوي او کامیابۍ ته مو هڅوي.

## علم او پوهه

پوهـه څـه ده، پـه تیـارو کـې رڼایـي ده علـم نـور دی، جهـل تـوره تاریکـي ده دغـه تـوري چـې تـه وینـې، دا غمـي دي کتابونـه خـو یـاران د تنهایـي دي قلـم څـه دی، پـه رنګونـو کـې بې څـه دي اسـتاد څـه دی، خـو د لارې رهنمـا دی شـاګرد هـم لـه زویـه کـم نـه دی، بلها دی څومـره پاکـه معطـره او خـوږه ده د اسـتاذ او شـاګرد کلکـه رشـته ده نـه درهـم، دینـار راشـده نـه دولـت دی دغـه علـم د نبیانـو وراثـت دی

راشد کامران

## ۵ درس برای تجربه زندگی

۱- از آشفتگی دوری کن
هـر فعالیت مثبت زنده گـی را کـه انجام میدهـی تصـور کـن کـه مهـم تریـن کار جهـان اسـت، بـا ایـن کار سـعی میکنـی کـه در یـک زمـان فقـط یـک کار را انجام بدهـی

۲- خـودت را از قیـد و بنـد هـر چـه غیرضروریسـت رهـا کـن
کافیسـت همیشـه از خـودت بپرسـی بـه عنـوان یک مسـافر، آیـا کولـه بـارم زیـاد سـنگین نشـده؟ چـه چیـزی را میتوانم رهـا کنـم تـا سـبک تـر بـه راهـم ادامـه بدهـم.

۳- دوست و رفیق خودت باش
بـه جـای اینکـه خـودت را بـا دیگـران مقایسـه کنـی بهتـر اسـت متوجـه خـود باشـی، بـه خـودت یـادآوری کـن کـه تـو میتوانـی و توانایـی رسـیدن بـه اهـداف ات را داری .

۴- هیچـگاه اجـازه نـده افـکار منفـی ات تـرا از راه رسـیدن بـه اهـداف ات منصـرف کنـد، شـخص مؤفـق آن اسـت کـه پـس از هـر شکسـتی دوبـاره برخیـزد و بـه راه اش ادامـه دهـد.

۵ – همدلی را تمرین کن
وقتـی همدلـی را تمریـن کنیـد، یعنـی سـعی کنیـد خودتـان را در موقعیـت و جایـگاه فـرد مقابـل قـرار دهیـد، از اشـتباهات دیگـران کمتـر اذیـت مـی شـوید و میتوانیـد از زندگـی تـان لـذت بیشـتری ببریـد.

## داستان جالب تاجر

گفتـه مـی شـود تاجـری بـه بانکـی رفـت و درخواسـت قرض کوچکـی بـه مبلـغ ۵۰۰۰ دالـر کـرد و توضیـح داد کـه بـرای سـفر بـه اروپـا و انجـام کاری بـه ایـن پـول نیـاز دارد.
طبـق معمـول، بانـک بـرای قرضـه از تاجـر وثیقـه خواسـت.
تاجـر وقتـی کلیـد موتـر لوکـس خـود را بـه عنـوان وثیقـه بـه آنهـا داد، کارمنـدان بانـک را شـگفت زده کـرد! کارمنـدان بانـک موتـر را بررسـی کردنـد و مـدارک رسـمی آن را تأییـد کردنـد و همـه چیـز را مرتـب یافتنـد.
کارمنـدان بانـک نتوانسـتند جلـوی خنـده خـود را بگیرنـد.
بـا خـود شـان گفتنـد چطـور ممکـن اسـت او یـک موتـر لوکـس بـه ارزش تقریبـی ۲۵۰۰۰۰ دالـر را بـه عنـوان وثیقـه بـرای قرضـه کـه بیـش از ۵۰۰۰ دلار نبـود، قـرار دهـد؟
یکـی از کارمنـدان خـودش موتـر را در پارکینـگ زیرزمیـن بانـک پـارک کـرد.
دو هفتـه بعـد، تاجـر از سـفرش برگشـت و بـرای بازپرداخـت قـرض، شـامل بهـره، کـه فقـط ۱۵.۴۱ دالـر بـود، بـه بانـک رفـت.
مدیـر قـروض بـا لبخنـد و تعجـب حرفـش را قطـع کـرد و گفـت: «جنـاب، مـا از همکاری با شـما بسـیار خوشـحالیم، امـا بگذاریـد بـه شـما بگویـم، گیـج شـده‌ایم! مـا سـوابق شـما را بررسـی کردیـم و متوجـه شـده‌ایم کـه شـما یـک میلیونـر هسـتید. چطـور می‌توانیـد وقتـی اصـلاً بـه آن پـول نیـازی نداریـد، چنیـن قـرض درخواسـت کنیـد؟»
مـرد لبخنـد زد و بـا آرامـش گفـت: «جنـاب، بـه مـن بگوییـد کجـا می‌توانـم در ایـن شـهر یـک جـای امـن پیـدا کنـم تـا موتـر لوکـس و گـران بهـای خـود را فقـط بـا ۱۵.۴۱ دالـر بـه مـدت دو هفتـه پـارک کنـم و بعـد برگـردم و ببینـم کـه آن منتظـر مـن اسـت، نامشـخص و بـدون آسـیب؟»

## زیبا ترین جمله ها

-هیچگاه نگذار زخم هایت،تورا به کسی که نیستی تبدیل کند.

-کشتی درساحل بسیارامن تراست،امابرای این ساخته نشده است.

-تنهایک چیزهسـت کـه برآورده شـدن رویایی راناممکـن میسـازدوآن،ترس ازشکسـت اسـت.

-اگردرزمـان حـال حضورداشته باشـی،می توانـی آن را بهترکنـی و اگرحـال را بهترکنی،آنچـه از پـس آن مـی آیـد بهتـر خواهـد شـد.

-یـک کـودک می‌توانـد سـه چیـز را بـه انسـان بالـغ بیامـوزد: بـدون دلیـل شـاد بـودن، همیشـه مشـغول انجـام کاری بـودن و اعـلام خواسـته خویـش بـا تمـام قـوت!

## بعضی چیزهایی است که...

بعضی چیزهایی است که اگر بشکنند،
با هیچ چسبی نمی شود درستش کرد،
مثل : قلب آدما ...
بعضی چیزهایی است اگر بریزد،
با هیچ چیزی نمی شود جمعش کرد،
مثل : آبـرو ...
بعضی چیزهایی را اگر بخورید،
با هیچ چیزی نمی توانید دوباره برگردانید،
مثل : مال یتیم ...
بعضی چیزهایی را باید قدرش را بدانیم،
مثل : پدر و مادر !
بعضی چیزهایی را نمی شود تغییر داد،
مثل : گذشته ...
بعضی چیزهایی را با هیچ پولی نمی شود خرید،
مثل : محبت ...
و بعضی چیزهایی است که نباید از دست داد،
مثل : دوستان واقعی ... !

## نیروی خاموش به نام عزم!

نوشتۀ ذکی مکسویل

هیـچ چیـزی در دنیـا، حتـی اسـتعداد ، هـوش یـا فرصـت، نمی‌توانـد جـای نیرویـی را بگیـرد کـه از درون انسـان فریـاد می‌زنـد: «مـن بایـد!»
نـه «ای کاش»، نـه «اگـر شـد»، نـه «ببینـم چـه میشـه»، بلکـه فقـط یـک جملـه: مـن بایـد!
ایـن همـان لحظه‌ای‌سـت کـه انسـان از نقـش یـک تماشـاگرِ زندگـی خـارج می‌شـود و تبدیـل می‌گـردد بـه بازیگـر اصلـی سرنوشـت خـود.
تـو کوهـی را می‌بینـی کـه سـرد، سـخت، بلنـد و ناعادلانـه اسـت. بلـه، درسـت دیـدی. ولـی اگـر در درونـت چیـزی بجوشـد کـه بگویـد:
«ایـن کـوه بـرای مـن اسـت، یـا مـن ایـن قلـه را فتـح می‌کنـم، یـا روی دامنه‌اش جـان می‌دهـم»، تو دیگر با یک آدم معمولی فرق داری.
فـرق آدمـی کـه عـزم دارد بـا کسـی کـه نـدارد چیسـت؟
کسـی کـه فقـط آرزو دارد، وقتـی بـا مانـع روبـرو می‌شـود، کنـار می‌کشـد.
امـا کسـی کـه عـزم دارد، وقتـی بـا مانـع روبـرو می‌شـود، آتـش درونـش بیشـتر شـعله‌ور می‌شـود.
آدم‌هـای بی‌عـزم، بهانه‌تـراش می‌شـوند.
آدم‌هـای بـا عـزم، بهانه‌سـوز می‌شـوند.
بزرگ‌تریـن دشـمن تـو تنبلـی نیسـت. تـرس نیسـت. حتـی فقـر و کمبـود نیسـت.
بزرگ‌تریـن دشـمن تـو، آن صـدای ضعیـف و مزاحـم در ذهنـت اسـت کـه می‌گویـد: «بی‌خیـال، ارزشـش را نـدارد!»
در همـان لحظـه، اگـر تـو تصمیـم بگیـری کـه بـر ضـد آن صـدا برخیـزی و بگویـی:
«نـه! مـن ایـن مسـیر را تـا آخـر مـی‌روم، حتـی اگـر زمیـن بخـورم، حتـی اگـر خـون بریـزم، حتـی اگـر هیچ‌کـس تشـویقم نکنـد!»
آنجاسـت کـه تـو بـه خـودت خیانـت نمی‌کنـی...
و ایـن بزرگ‌تریـن پیـروزی توسـت.

# Marif
Weekly

**کتنپلاوی:** الحاج مولوي شهاب الدین «ثاقب»
مولوي عزیز احمد «ریان»
مفتی حبیب الله «قتاده نوري»
احمد شعیب «حقیقي»
عبدالصبور «غفراني»
محمد نسیم «عیاذ»
**مسئول مدیر:** سعید «جلال»
**انځور اخیستونکی:** محمد ادریس «نوري»
محمد اشرف «رسولي»

**صفحه آرا :** محمد قسیم «یعقوبي»
**تیراژ :** ۳۰۰۰
**پته:** د کابل ښار، غازي محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت
د نشراتو او عامه اړیکو ریاست، د نشراتو او عامه پوهاوي آمریت
**علاقه مندان معارف و نویسنده گان گرامی!**
شما می توانید انتقادات، پیشنهادات و نوشته های خود را جهت چاپ به ایمیل آدرس ذیل ارسال نمایید.
Marifnewspaper1919@gmail.com
**د اړیکي شمېره:** ۰۷۲۸۴۰۷۲۷۲

Ministry of Education Cultural and Social Issue / Better Education - Better Future / Established 2002, Issue No 304 /2025


# د پوهنې وزارت سرپرست د دایکنډي ولایت پوهنې رئیس سره وکتل



د پوهنې وزارت سرپرست محترم الحاج مولوي حبیب الله آغا د دایکنډي ولایت د پوهنې له رئیس محترم مولوي رحمت الله قندیلي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. په یاده کتنه کې د دایکنډي ولایت د پوهنې رئیس د پوهنې وزارت محترم سرپرست ته د نومورې ولایت د تعلیمي، اداري او مالي وضعیت په اړه معلومات ورکړل. همداراز نوموړي د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې ...

۲مخ

## سمنګان ولایت کې د یو شمېر ښوونځیو د جوړونې او ترمیم چارې پیل شوې

په سمنګان ولایت کې د یو شمېر تدریسي ودانیو دېوالونو، ښوونځیو بیارغونې او د بنسټ دېرې اېښودلو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې، د یاد ولایت د پوهنې رئیس، ځینو سیمه ییزو مسئولینو، دیني علماءکرامو او قومي مشرانو په ګډون سره د فیروزنخچیر ولسوالۍ اړوند د تنګي لومړني ښوونځي د دېرې په اېښودلو سره پیل شوې.

په یادو پروژو کې د فیروز نخچیر ولسوالۍ د دریو درسي ټولګیو لرونکې ودانۍ جوړول، د خرم او سرباغ په ولسوالیو کې د ښوونځي د احاطوي دېوال جوړول، په موهو ښوونځي کې د دریو درسي ټولګیو جوړول، په ...

۲مخ



## برگزاری سیمینار برای ۳۰ تن مدرسین ریاست معارف ولایت زابل

براساس هدایت معینیت محترم تعلیمات اسلامی وزارت معارف، برنامه آموزشی دو روزه برای ۳۰ تن از مدرسین مسلکی آمریت تعلیمات اسلامی ریاست معارف ولایت زابل در مورد ۸ قلم جنس مواد اداری آغاز شد.

در مراسم افتتاح این برنامه، محترم الحاج مولوی گل‌ولی متقی رئیس معارف این ولایت طی سخنانی از اشتراک‌کنندگان خواست تا آموخته‌ها و تجارب حاصل‌شده از این سیمینار را به سایر همکاران خود در مدارس انتقال دهند تا زمینه ارتقای کیفیت تعلیم و تربیه و انسجام بهتر امور اداری فراهم شود.

قابل ذکر است که هدف از این سمینار، تنظیم بهتر، معیاری‌سازی و مؤثریت بیشتر امور اداری مربوط به هشت قلم جنس مواد اداری عنوان شده است.

## غزني کې د یو باب ښوونځي د بنسټ دېره کېښودل شوه

د غزني ولایت جاغوري ولسوالۍ اړوند د بابا په سیمه کې د درویش لومړني ښوونځي د ودانۍ بنسټ دېره، د پوهنې مسئولینو، علماءکرامو، مشرانو او د یادې ولسوالۍ ځایي اوسېدونکو په حضور کې کېښودل شوه.

د پلان له مخې به یاده ودانۍ چې ۹ درسي ټولګي، دغونډو تالار، کتابتون او نور ...

۲مخ




## پکتیکا ولایت کې یو باب دیني مدرسه پرانیستل شوه

د "جامعة الطیبه" دیني مدرسې ودانیزې چارې، چې څه موده وړاندې د پکتیکا ولایت وازیخوا ولسوالۍ د ۲.۵ مېلیونه افغانیو په لګښت پیل شوې وې، د پوهنې ریاست مسئولینو، علماءکرامو، قومي مشرانو، استادانو او زده‌کوونکو په حضور کې پرانیستل شوه.

د یاد ولایت پوهنې رئیس محترم مولوي عبدالوکیل خالد د یادې مدرسې د پرانیستې په مراسمو کې وویل: د اسلامي امارت واک ته له رسېدو سره، په هېواد کې د زده‌کړې او روزنې بهیر خورا ښه شوی دی، کمیت او کیفیت ته ځانګړې پاملرنه شوې، د فساد، قومي او ژبنیو توپیرونو په بشپړه توګه مخه نیول شوې، اوس د دې وخت دی چې موږ او تاسو خپل ماشومان د دیني او عصري علومو په برخه کې وروزو، تر څو په راتلونکي کې زموږ د دین، هېواد او خلکو لپاره د بشپړ خدمت جوګه شي."

یاده مدرسه چې شاوخوا ۳۰ اداري او تدریسي خونې لري، د یوه علمي او جهادي شخص الحاج مولوي عبدالمالک سعید لخوا د شاوخوا ۶ جریبه ځمکې په ساحه کې جوړه شوې ده.

د پوهنې وزارت مشرتابه د هېوادوالو په ځانګړي ډول د پکتیکا ولایت د اوسېدونکي حاجي صاحب عبدالمالک سعید له مادي او معنوي ملاتړ څخه مننه کوي.




## وقف بیش از یک جریب زمین برای ساخت یک باب مدرسه دینی درولایت کاپیسا

زمینی به مساحت ۲۱ بسوه از سوی ورثه مرحوم ملا عبدالعلیم یک تن از معارف دوستان ولسوالی تگاب ولایت کاپیسا، جهت توسعه مدرسه دینی محمدی در قریه نوروزخیل ولسوالی مذکور به گونه رسمی به ریاست معارف آن ولایت اهدا گردید.

هدف از اهدای این زمین، فراهم‌سازی فرصت‌های آموزشی دینی برای جوانان محل می باشد.

وزارت معارف کشور از این اقدام نیکو استقبال کرده و آن را گامی ارزشمند در تقویت آموزش در مناطق محروم می داند.

## آغاز کار پروژهٔ ترمیمات ۸ باب مکتب در ولایت هرات

کار ترمیم و بازسازی ۸ باب مکتب در سطح ولسوالی‌های گذره و زیرکوه ولایت هرات آغاز شد

این پروژه‌ها با همکاری یکی از نهادهای همکار با معارف به ارزش مجموعی ۴ میلیون و ۴۸۰ هزار افغانی عملی می‌گردد.

محترم مولوی رحمت‌الله جابر رئیس معارف ولایت هرات، می گوید: با اکمال کار این پروژه‌ها، زمینهٔ بهتر فراگیری تعلیم و تربیه در محیط مناسب آموزشی برای هزاران شاگرد در مکاتب ولسوالی‌های این ولایت فراهم می‌شود.

**نیکمرغي او سعادت د هغو کسانو په برخه ده کوم چې د ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې نه ستړي کېدونکې هلې ځلې کوي.**